# شرق او غرب

Ketabton.com

ژباړه: زاهد خلیلي

For more Pashto Books, Visit: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب نوم: اسرار عقب مانده گي شرق

لیکوال: ناصر مکارم شیرازي

ژباړن: زاهد خلیلي

ایمیل ادرس: zahidkhalili@yahoo.com

کال: ۲۰۱۳ / اپریل

For more Pashto Books, Visit: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یادونه:

لاندې د وتلي ایراني لیکوال ناصر مکارم شیرازي د یوه پخواني کتاب (اسرار عقب مانده ګي شرق) یوه برخه ژباړل شوې ده، د کتاب اصلي موضوع د ختیځ د وروسته پاتې والي څېړل دي. لیکوال په ډېر ښه انداز سره په دې توانېدلی دی، چې لومړی د ختیځ لوړتیا، په ختیځ کې د تمدنونو منځته راتګ او پرمختګ، په ختیځ کې د دیني او دنیوي علومو، افکارو او نظریاتو منځته راتګ، د ختیځ هغه احسانونه چې لوېدیز یې پوروړی دی، هغه خدمت چې اسلام د ختیځ د لوړوالي لپاره کړی دی او.... او د کتاب په وروستیو کې یې د ختیځ د وروسته پاتې والي لاملونه او په دې وروسته پاتې والي کې یې د لوېدیزې نړۍ رول په بشپړ تفصیل سره لیکلی دی.

دغه څو مخه، چې ما ډېر دمخه ژباړلي وه او نور کتاب، چې لرې ورقې یې شلېدلې هم وې، زما څخه نادرکه شو، په دې هیله یې تاسو ته وړاندې کوم، تر څو هغه د ذلت او ټیټ والي احساس چې نن د ختیځوالو په فکر او وجود کې موجود دی، لږ څه له منځه لاړ شي او داسې فکر وکړي، چې که نن لوېدیز، لوېدیز دی؛ نو دا د همدې ختیځوالو له امله دی. او د تاریخ د فلسفې له نظره، هغه نظریه ستاسو فکر ته در رسول غواړم، چې د نړۍ د تمدن او مرکزیت نقطه تل د تغیر په حال کې ده، که له څه مودې راهیسې لوېدیز په ختیځ واکمن دی، لرې نه ده، چې دغه واکمني به یې له منځه لاړه شي او ختیځ به بیا په هر ډګر کې خپل لوړوالی ترلاسه کړي او د نړۍ د علمي، سیاسي، اقتصادي او نورو ډګرونو مرکز به شي او که خدای کول، دغه وخت ډېر نږدې دی؛ ځکه چې د لوېدیز د سترو هېوادونو زوال پیل شوی او ختیځوال لږ څه ویښ شوي دي.

په درنښت

زاهدخلیلي

For more Pashto Books, Visit: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فهرست

ختیځ او لویدیځ........................................................................ 1
د نړۍ پر مخ لومړنی ژوند.............................................................. 5
خو؛ انسان............................................................................... 6
د لویدیځ د مؤرخینو د خولې یې اورو ............................................... 8
د تمدن لومړنی زانګو.................................................................. 9
لویدیځ: د ختیځ احسان من دی........................................................ 10
لومړنی خدمت چې اسلام د تمدن د پرمختګ لپاره وکړ.......................... 13
د لویدیځ پوهان څه وایي؟........................................................... 13
د ختیځ دعلومو اغیز په لویدیځ ..................................................... 14
د یوې لویې او پراخې نخشې یوه برخه........................................... 16
د لویدیځ ادبي استعمار.............................................................. 18
لویدیځ: د خیتځ د ادب احسان من دی ............................................ 19

For more Pashto Books, Visit: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ختيځ او لوېديځ

داسې کسان ليدل کيږي، چې کوم اروپايې يا امريکايي وګوري؛ نو په لږ وخت کې يې ټول فکر د هغه په طرف شي او سر تر پښو ورته ځير، ځير ګوري. وګورئ، خارجي څرنګه موجود دی، د ددوی ماشيني تمدن مخالفينو ته څه نوې پديدي منځ ته راوړي دي؟؟؟.

دا مسئله يوازې د عامو او نالوستو خلکو پورې تړلې نده، بلکه زموږ هغه اروپا ته تللي خلک هم، چې کله د اروپا د حالاتو خبرې کوي؛ نو ډير په غرور او افتخار سره يې يادونه کوي.

په داسې حال کې، چې غربيان د کوم لوړ جنس يا مافوق انساني نژاد نه دي او نه د مريخ يا مشتري نه راغلي دي.

مګر د دوی (لويديځوالو) تمدن ډير نوی او بربريت (وحشيتوب) يې ډير پخوانی دی او هغه وخت چې په ختيځ کې تمدن د ځوانۍ په مرحله کې وه، په لويديځ کې د تمدن نوم هم نه اوريدل کيده.

هسې نه چې څوک يې ډيره مبالغه ونه ګڼي، د دغه حقيقت د ثبوت لپاره غواړم، چې هغه حالاتو ته کتنه وکړو، چې انسان پيداشو او وبه ګورو، چې لومړنی تمدن چيرته راڅرګند شو؟

## د نړۍ پر مخ لومړنی ژوند

هيڅوک نه پوهيږي، چې د ځمکې پر مخ لومړنی ژوند د څه وخت راهيسې پيل شوی دی؟. خو د پوهانو له کوښښونو او تجربو دا پايله لاسته راځي، چې د ځمکې پر مخ د ژوند پيل اوږد تاريخ لري.

For more Pashto Books, Visit: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پوهانو وروستی څېړنې ښيي: د ځمکې کره، چې موږ په کې ژوند کوو (احتمالا) څلورزره میلیون کاله مخکې منځ ته راغلې ده. درې زره کاله د ځمکې په کره کې د ژوند کولو نښې، نښانې موجودې نه وې، تول اور وه، تول ځای لوګي او بخار نیولی وه، تر څو د ځمکې سر یخ او لوی غرونه په کې راڅرګند شوه.

وروسته سیلابي بارانونه پیل شول، بارانونو او طوفانونو زرګونه کاله ځمکه په خپل غېږ کې رانغاړلې وه. داسې ښکاري، چې دغو بارانونو د یو لوی تراکتور دنده اجراء کوله، تر څو ځمکه هواره کړي او دښتې او جلګې د انسان او حیواناتو د ژوند لپاره منځ ته راوړي.

بالاخره، دغه دنده په کامیابۍ سره سرته ورسیده. لوی سیندونه او بحرونه رامنځ ته شول، غرونه ډېر پراخه شول او نرمې او هوارې ځمکې منځته راغلې.

وروسته د درې میلیون کالو (چې تاریخ یې دقیق مالوم نه دی) د ژوند لومړنی نښې، نښانې په دریابونو او په هغه اوبو کې چې د ژوند کولو وړ وې راڅرګندې شوې.

حیوانات یو د بل پسې په مختلفو عجیبو او غریبو شکلونو باندې رامنځته شوه. د هغوی یو تعداد وروسته د تل لپاره له منځه ولاړل؛ مګر یو تعداد یې بیا په هر ځای کې خواره، واره شول.

## خو؛ انسان...

د ځمکې پر مخ د انسان د پیدایښت نه ډېر کلونه نه دي تېر شوي. دغه وخت د زرګونو او میلیون کلونو تر منځ اندازه شوی دی او د ځمکې د پیدایښت په مقابل کې ډېر کم دی؛ خو متأسفانه کوم تغیرات او تحولات، چې په دې وخت کې د انسان په ژوند کې منځته راغلي، په واضح ډول موږ ته څرګند نه دي.

For more Pashto Books, Visit: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه مالومات، چې د انسان د ژوند په اړه زموږ په لاس کې دي، د هغو تاریخ پنځه یا شپږ زره کلونو ته رسیږي، د کله راهیسې چې خط رامنځته شوی دی. (دغه دوران د تاریخ څخه مخکې دورې یا ماقبل التاریخ دورې په نوم یادیږي).

که د انسان عمر د ځمکې پر مخ یوه شپه ورځ فرض کړو، د بشر ټول تاریخ به د څو دقیقو څخه زیات نه شي او د ځمکې عمر به د یوې ثانیې څخه هم کم شي.

ولې د خاورې موجودیت زموږ سره ستر خدمت کړی دی، تر څو د ماقبل التاریخ دورې او د هغه وخت د انسانانو د ژوند څرنګوالی موږ ته بیان کړي.

تاریخ پوهانو هغه لوښي او اسناد چې لاسته راوړي، د انسان ژوند په لاندې دورو ویشلی دی.

لومړی د لرغونو ډبرو زمانه ده، چې د هغې په اړه ډیر مالومات په لاس کې نشته. د دوی سره د خپل ژوند د تیرولو لپاره ډیر کم وسائل په لاس کې وه او د توږل شوو تیږو نه به یې د ځان لپاره د وسلو په ډول استفاده کوله. د دې دوران په وروستیو کې انسان وکولای شول، چې اور رامنځته کړي.

ددې وروسته د نوې ډبرې دوره منځته راځي او په دې دوران کې انسان وکولای شول، چې د تیږو څخه صیقل شوي او صاف لوښي د ځان لپاره جوړ کړي او د ژوند په نورو اړخونو کې ډیر زیات تغیرات رامنځته شول د نوې ډبرې دوران ډیر کم دی او کیدای شي، چې لس یا شل زره کلو د ترمنځ وي، په داسې حال کې چې د لرغونې ډبرې دوره د انسان د ټول عمر نوي فیصده په بر کې نیسي.

ددې وروسته د برونزو دوره منځ ته راځي، په دې دور کې انسان د لومړي ځل لپاره د فلزاتو د ویلي کولو او استعمالولو سره اشنا شو او وروستی دور د قبل التاریخ د دورې د اوسپنې دوره ده، چې په دې دوره کې د انسان ژوند په کلي ډول تغیر وخوړ او ورو ورو د تاریخ دوران ته نږدې کیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته باید یوې نقطې ته پام وکړو، چې دغه دورې د نړۍ په ټولو ځایو کې یو ځای پیل او پای ته نه دي رسیدلي؛ بلکې په مختلفو هیوادو کې یې وختونه مختلف وه.

ټول لویدیځ او ختیځ تاریخپوهان په یو نظر دي، چې کله په ختیځ کې د اوسپنې دوره وه؛ نو په لویدیځ (اروپا) کې خلکو د ډبرو په دوره کې ژوند کاوه.

## د لویدیځ د مؤرخینو د خولې یې اورو

د لویدیځ د تمدن تاریخ او په ختیځ کې د هغه اساس نومې کتاب چې د امریکا په پوهنتونو کې تدریس کیږي، لیکلي: اوس دا خبره اثبات ته رسیدلې، د اسیا په هغه ځایو کې چې خلکو ژوند کاوه، په زماني لحاظ دوی د اوسپنې په دوره کې وه او د اروپا خلکو د نوې ډبرې په دوره کې ژوند کاوه او داسترالیا خلکو د لرغونې ډبرې په پېر ژوند کاوه.

هغه اثار چې د ختیځ د مختلفو ځایو څخه لاسته راغلي، وایې، چې انساني تمدن د ختیځ څخه لویدیځ ته تللی دی، په دې ترتیب هغه لرغوني اثار چې د ختیځ د ځمکې څخه لاسته راغلي، دومره لرغوني دي، چې د نړۍ په بل ځای کې نه دي موندل شوي.

ددې څخه دا جوته شوه، چې ختیځوال د لویدیځوالو څخه د تمدن په رامنځته کولو کې لومړیتوب لري او په حقیقت کې، ختیځ د انساني تمدن لومړنی مرکز، زانګو او رامنځته کوونکی دی او د بشر په تاریخ کې تمدن په لومړي ځل په ختیځ کې رامنځته او د نړۍ پر مخ وغوړید.

د مؤرخینو له نظره، دا پرته له شکه جوته ده، چې لومړنی انساني تمدن په ختیځ کې رامنځته شوی دی او دغه ختیځوال وه، چې د بشر په تاریخ کې یې د انسانیت د قافلې مشري کړېده.

For more Pashto Books, Visit: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چیرته تمدن د ښاري ژوند په مانا وي؛ نو د ختیځ او لویدیځ ټول مؤرخین په یو نظر دي، چې د (ښار) لومړني اثار په ختیځ کې پیداشوي دي او د هغوی د پیدائښت تاریخ ۶ یا ۷ زره کاله لرغونی دی.

او که چیرته د تمدن پیل د خط رامنځته کیدل وي، د کوم پواسطه چې انسان وکولای شول، خپل تیر حال احوال راتلونکو نسلونو ته بیان کړي؛ نو دا هم لکه د ښار د رامنځته کیدو په شان په ختیځ رامنځته شوی او ۶ یا ۷ زره کاله لرغونی دی. اوس به ددغو حقایقو په نظر کې نیولو سره وګورو، چې په ختیځ کې د تمدن لومړنی زانګو کوم هیواد دی.

## د تمدن لومړنۍ زانګو

د اسیا او افریقا نخشې ته ښه ځیر شئ، د دجلې، فرات، نیل او د مدیترانې سواحل چې ددې نخشې په منځ کې دي په نظر کې ونیسی. د یو هلال شکل اختیاروي، چې ټل په مختلف ډوله بوټو او زراعت باندې پوښل شوې وي، په همدې دلیل ورته حاصلخیزه هلال وایې.

مؤرخین وایې، چې دغه حاصلخیزه هلال د انساني تمدن لومړنی زانګو او د پرمختګ لومړنی ځای دی. ددغو رودونو شاوخوا تمدن د لومړي ځل لپاره رامنځته شو.

علوم، مختلف صنایع او هغه څه چې د بشر ژوند ته یې پرمختګ ورکړ، د لومړي سر نه د همدې ځای څخه پیل او د کلدې، اشور، بابل، ایران او مصر په شکل راڅرګند شول.

ویل کیږي، چې د همدغو تمدنونو د پرمختګ په دوران کې په هند کې دسند سیند، هوانګ او هو تمدنونو په چین کې لومړنی نښې نښانې راڅرګندې شوې.

دا چې د انساني تمدن او ښاري ژوند لومړنی نښې په کومو ذکر شویو تمدنونو کې رامنځته شوي دي، د مؤرخینو تر منځ د نظر اختلاف موجود دی.

For more Pashto Books, Visit: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځيني ددغه تمدن اساس حاصلخيزي ښايي؛ ځکه د انسان ژوند د کرنې او د رودونو پورې تړلی دی. ولې دلته دا پوښتنه حل نشوه، چې کرنه د رودونو پورې تړلې وه؛ خو په لويديځ کې هم دا رودونه موجود وه، چې د هغه د حاصلخيزی سبب ګرځيدل.

بايد ووايو: د تمدن د منځته راتګ بل عامل د خلکو د فکر او هوښ پورې تړلی دی او دغه عامل بايد له نظره ونه باسو.

په ختيځ کې چې په هغه وخت د کوم نژاد لرونکي خلک اوسيدل، د فکر او هوښ له نظره يې په نورو برتري درلوده او افکار دي، چې په تمدن لوړ اغېز غورځوي.

په هغه وخت کې، چې د نيل، فرات، دجلې او هوانګ په سيندونو کې تمدن د پرمختګ په لور روان وه، په لويديځ کې د مې سي سي پي، والګا، دانيوب او رن په سيندونو کې د تمدن غږ نه اوريدل کيده او خلکو يې شاوخوا په بربري ډول ژوند کاوه.

## لويديځ: د ختيځ احسان من دی

همدا ختيځوال وه، چې زرګونه کاله مخکې يې د تمدن او علومو اساس کيښود، چې اثار يې په خاوره، ډبرو او د تاريخ په پاڼو کې ليدل کيږي او دا د تعجب خبره نده، چې ووايو، همدا ختيځوال وه، چې د لويديځ د صنعتي تمدن اساس يې کيښود.

خپله د لويديځوالو څخه به يې واورو، د لويديځ د تمدن تاريخ او په ختيځ کې د هغه اساس کتاب، چې په امريکا کې يو منل شوی کتاب دی، ليکل شوي:

الفبا ختيځوالو رامنځته کړه، همدا ختيځ وه، چې د علومو او رياضياتو په لور يې لومړی ګام کيښود، په خاص ډول کليزه (جنتري) يې رامنځته کړه.

ختيځ وه، چې په لومړي ځل په کې د حمورابي (۱۹۰۰ م.ز) لخوا قانون جوړ کړی شو. په لومړي ځل معماري هم همدلته رامنځته شوه.

For more Pashto Books, Visit: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او همدا ختيځ وه، چې په لومړي ځل په کې دينونه رامنځته شول.... او عيسويت وه، چې د دوه زره کاله تيريدو وروسته هم په لويديځ کې يو لوی نارينه او ښځينه اکثريت پيروان لري، په همدې ختيځ کې رامنځته شو

ختيځ چې کوم خدمت لويديځ ته کړی دا مهمه نده او ختيځ بايد چې خدمت وکړي؛ ځکه دا د متمدن ختيځ دنده ده، چې نور هم بايد د ځان سره په دې تمدن کې شامل کړي.

بلکه مهمه داده، چې دغه د تمدن لرونکی ختيځ ولې او په کوم دليل؟؟؟ نن د لويديځ په مخ کې د شرمندگی او حقارت احساس کوي؟؟؟.

هغه ختيځ چې د الفبا مخترع دی، نن ولې د لويديځ په مقابل کې د شرمندگی احساس کوي؟؟؟.

هغه ختيځ چې د مختلفو علومو رامنځته کووونکی دی، نن ولې د لويديځ د علومو زده کوونکی دی؟؟؟.

هغه ختيځ چې د معمارۍ رامنځته کوونکی دی، نن ولې په معمارۍ کې د لويديځ تقليد کوونکی دی؟؟؟.

نن ولې ختيځ، د کاليو په اغوستلو کې د خوراک په خوړلو کې د لويديځ د دود خپلوونکی دی؟؟؟.

زموږ ستاسو ټولو دنده داده، چې په دردناک خوب ويده، روحي ډول سرگردان او په دغه اوسني حالت کې راګير ختيځ ته نجات ورکړو.

ځينې پوښتنه کوي، چې ولې او څرنګه د نړۍ ټول پيغمبران په ختيځ کې تير شوي دي، حتی عيسويت چې نن د لويديځوالو لوی مذهب دی، دلته رامنځته شوی؟. عيسی عليه السلام په فلسطين کې وزيږيد او هملته يې خپل دعوت پيل کړ، موږ تر اوسه پورې نه دي اوريدلي، چې په لويديځ کې دې کوم پيغمبر تير شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پورتني سوال په ځواب کې باید ووایو، چې: که چیرته دا ګناه وي، دا د پیغمبرانو ګناه نه ده، دا د ختیځ ګناه ده، چې تر ټولو لومړی په کې انساني تمدن رامنځته شو. لوی پیغمبران او لوی اسماني دینونه د خپل اوچت مقام سره، چې د ټولنې د پرمختګ او د مادي او معنوي اړخونو (د ژوند) بشپړوونکي دي، په ختیځ کې رامنځته شوي دي.

هغه لوی دینونه چې په ختیځ کې رامنځته شوي، د ختیځ د لرغوني تمدن شاهدي ورکوي او دا په دې مانا هم ده، چې ختیځ د نړۍ د نورو ځایو پرتله د تمدن بیلابیل مراحل تیر کړیدي.

کیدای شي، ځینې د اسلام په اړه ووایې، چې دغه دین په داسې یوه سیمه کې رامنځته شو، چې د ختیځ د ډیرو وروسته پاتې سیمو څخه وه او خلک یې هم وحشي صفته وه. یوې خبرې ته باید توجه وکړو، چې د عربو د جزیرې خلک به وروسته پاتې وه؛ خو عربو ددې استعداد درلوده، چې د یو اوچت تمدن دروند بار په اوږو باندې واخلي. ولې یو سلسله نژادي او ټولنیز عوامل وه، چې د عربو د جزیرې د وروسته پاتې لامل شوي وه.

خو، د اسلام د لمر د راختو وروسته هغه وړتیا چې عربو د ځان نه وښوده، ټوله نړۍ ورته حیرانه ده.

د اسلام د راتګ څخه مخکې د حجاز سیمه د پنځو لرغونو تمدنونو تر منځ مرکزي نقطه وه. د ایران، یمن، مصر، ختیځ روم او د بابل تمدنونو دغه سیمه د ټولو خواوو څخه کلابنده کړې وه.

همداسې تقدیر وه، چې ددغه مرکز(حجاز) تمدن به د خپل شاوخوا ټول تمدنونه له منځه وړي او ټول به د یوې عقیدې په پواسطه یو ځای کوي.

For more Pashto Books, Visit: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لومړنۍ خدمت چې اسلام د تمدن د پرمختګ لپاره وکړ

اسلام نه یوازې خپل عقیدوي او فکري مسائل د توحید او یووالي په اساس وټاکل؛ بلکه په ټولنیزو، سیاسي او اقتصادي مسائلو کې یې هم اساس توحید او یووالی وټاکه او په دې اساس یې یوه لویه اسلامي ټولنه رامنځته کړه.

اسلام جغرافیایي، نژادي او طبقاتي پولې ګردې سره ړنګې کړې او داسې ټولنیز نظام یې وړاندې کړ، چې ټول انسانان په کې بغیر د کومې برترۍ څخه ژوند وکړي، حتی که مسلمانان شمسي نظام تسخیر هم کړي؛ نو ټوله اسلامي ټولنه به هلته د ژوند کولو حق ولري.

که چیرته اسلام د عربو د نژاد پورې تړلی وه؛ نو اسلام به نن هیڅکله هم د نړیوال دین په توګه راڅرګند شوی وای او پیروان به یې نن ۱۵۰۰ میلیونو ته هم نه رسیدل.

که چیرته اسلام د حجاز د پولو پورې تړلی وه؛ نو نن به دغه اسلام د عربو په شګو کې ورک وای.

او که چیرته د عربي ټولنې د یوې خاصې طبقې (مثلا فیوډالانو) پورې تړلی وای؛ نو نن به د هغوی د منځه تلو سره دغه دین هم له منځه تللی وای.

ولې، اسلام نفاق او جداوالي ټول اثار له منځه یوړل او د توحید اصل یې اساس وټاکه، چې په لږه موده کې یې ډیر عالي او اوچت تمدن رامنځته کړ.

## د لویدیځ پوهان څه وایي؟

ځینې متعصب لویدیځ مؤرخین د خپل ازاد فکر په درلودلو سره (چې دوی یې دعوه کوي) په هغو حقائقو سترګې پټوي، د کومو په واسطه چې په ختیځ کې اسلام یو لوړ تمدن رامنځته کړ او د هغه سیوری په لویدیځ باندې هم بې اغیزه نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولې ځينو بيا په دغه موضوع باندې اعتراف کړی دی. د لويديځ د تمدن تاريخ او د هغه اساس په ختيځ کې، نومي کتاب ليکوالانو، په خپل کتاب کې د اسلام او اسلامي تمدن په نوم يو فصل کې داسې ليکلي دي:

په دې کې هيڅ شک نشته، چې د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د وفات نه وروسته، ډيری عرب د اسلام د څخه ناخبره وه؛ خو يوه پيړۍ لا نه وه تيره شوې، چې شارل مارتل د محمد صلی الله عليه وسلم د پيروانو سره وجنګيږي، تر څو هغوی د فرانسې څخه وباسي او د بيزانس امپراتوري د خپل ځان د ساتلو لپاره ددغه دين سره په جګړه کې وه او اسلام هندوستان ته هم لاره پيداکړې وه.

په يو بحث کې، چې د اسلامي ترقی فوق العاده تمدن نوميږي، داسې ليکلي:

ددې څخه مخکې، چې د لويديځ په فرهنګ باندې د بيزانس او مسلمانانو اغيز وڅيړو، وبه وايو، چې د ختيځ څخه زياته روښنايي لوديديځ ته تللې ده.

## د ختيځ دعلومو اغېز په لويديځ

د مسلمانو پوهانو د کتابونو په ژباړلو سره د ختيځ علوم د لويديځ په وچه ځمکه لکه د باران په شان ووريدل، د لويديځ ځمکه يې خړوب کړه او اروپايان د ختيځ د علومو سره اشنا شول (داکټر ماکس ميرهوف).

که هغو کتابونو ته مراجعه وکړو، په کومو کې چې د ختيځ د علومو او په خاص ډول د اسلامي علومو رول د اروپا د رنسانس (بيا ژوندي کيدو) په دوره باندې ليکل شوي دي، هلته په ډير درست ډول ددې علومو اغيز څيړل شوی دی.

په وروستيو کې ځينو لويديځ ليکوالو په دغه اغيز باندې سترګې پټې کړيدي او وايې، چې د ختيځ د علومو اغيز په لويديځ دومره ندی، لکه پخوا چې ويل شوي دي او دوی (ځينې لويديځوال) فکر کوي، چې علوم د لويديځ څخه لويديځ يانې د يونان علوم لويديځ ته تللي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو، دوی ددې ټولو تعصبونو او تحریفونو سره، سره نه شي کولای، چې په هغو تاریخي حقائقو باندې پرده واچوي او ددې پردې په اچولو سره هم موږ په خاص ډول مسلمانان چې روښانه تیر تاریخ لرو د هغوی په لیکنو کې هغه څه ګورو، چې زموږ لپاره د ویاړ څخه ډک دي.

ولې، دا خبره دلته پای ته نه رسیږي، ددې ویره شته، چې دوی په راتلونکي کې موږ (ختیځوال) د توهین لاندې ونیسي او موږ د منځنیو پیړیو په دوران کې معرفي نه کړي او زموږ د علومو د اساس څخه سترګې پټې کړي.

د یوه لویدیځوال استاد له خولې پورتني حقیقت ته داسې اشاره کوو:

مسټر ټرینډ، چې د کمبریج په پوهنتون کې د هسپانوي ژبې استاد دی، په خپلو یادښتونو کې، چې د (هسپانیا او پرتګال) په نوم یې دي، داسې لیکلي:

د هسپانیا مؤرخین اوس د اسلام میراث ته دومره اهمیت نه ورکوي، ولې سل کاله پخوا چې به یو اعرابي هسپانیا ته راته؛ نو عجیبه او غریبه ستاینه به یې کیده؛ خو نن دا موضوع زړه شوېده. اوس د فرانسې او امریکا په پوهنتونونو کې کوښښ کیږي، چې هر څه لاتیني میراث وشمارل شي.

خو، که چیرې دوی انصاف وکړي او بغیر د تعصب نه، تاریخي حقائق وڅیړي؛ نو هر څه به برعکس شي. د وخت په تیریدو سره، داسې روښانه او اغیز لرونکي اسناد او مدارک په لاس راغلي، چې د اسلامي علومو ژور تأثیر د لویدیځ د علومو پرمختګ کې په اثبات رسوي، لکه څرنګه، چې داکټر میرهوف ورته اشاره کړېده.

هغه د طبیعي علومو او طب په نوم کتاب کې خپل یادښتونه داسې لیکلي دي:

د اسلامي ملتونو د علم ذخیرې اوس، ورو ورو ښکاریږي او په ټولیز ډول د استفادې وړ ګرځي. هغه څه چې په وروستیو کلو کې کشف شوي، د اسلامي علومو اغېز په روښانه ډول په کې لیدل کیږي؛ خو دا کشفیات لا کافي نه دي او په راتلونکي کې به د اسلامي علومو اغېز لا ډیر روښانه شي.

For more Pashto Books, Visit: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د يوې لويې او پراخې نخشې يوه برخه

لويديځوال حق لري، چې په دغو تاريخي حقائقو سترګې پټې کړي، همدارنګه د فرانسې او امريکا پوهنتونونه حق لري، چې وښي، هر څه لاتيني ريښه لري.

نن لويديځ د خپل ټول توان سره کوښښ کوي، چې د خپل سياسي استعمار د لاسه وتلو پر ځای يو نوی فکري استعمار رامنځته کړي او څرنګه چې يې زړه وغواړي، پر ختيځوالو باندې حکومت وکړي.

هغوی غواړي، چې د ختيځ بيلابيلې ارزښتناکې منابع په ارزانه قيمت تر لاسه کړي او خپل کم ارزښته مصنوعات په ختيځوالو په ګرانه بيه وپلوري.

لويديځ د خپل فکري استعمار سره غواړي، چې دوی (لويديځوال) دې پرمختللي او ختيځوال دې وروسته پاتې وي، تر هغه وخته پورې، چې تر څو دا نړۍ او د خدای خدائي حاکمه وي او دا د دوی تغير نه خوړونکی قانون دی او دوی ختيځوال مجبوري، چې د دوی ددې فکر احترام وکړي.

د لويديځ زاړه سياستمداران، متعصب پوهان او کم ظرفه ځمکپيژندونکي، کوښښ کوي، د خلکو په سترګو پرده واچوي، چې د لويديځ ننی تمدن د ختيځ د پوهانو په افکارو باندې استوار نه دی؛ خو که د دوی مختلفو صنايعو ته وګورو؛ نو دا به روښانه شي، چې په دې صعنتي پرمختګ باندې د مسلمانانو رول بې اغيزې نه دی.

ددې واقعيتونو نه د انکار وجه د لويديځ د پراخ فکري استعمار يوه لويه نخشه رامنځته کول دي.

نن د لويديځ تبليغي دستګاوې دا کوښښ کوي، چې ختيځوال خپلو لويديځوالو ته سپک او په فکري لحاظ وروسته پاتې او وحشي معرفي کړي.

داکترميرهوف په خپلو يادښتونو کې داسې ليکي:

For more Pashto Books, Visit: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په صليبي جګړو کې، مسلمانو طبيبانو اروپائي طبيبانو پورې خندا کوله، ځکه د هغوی مالومات ډېر پخواني او لومړني وه. داکتر ميرهوف وروسته وايي: عيسويانو د ابن سينا، جابر (ابن حيان)، حسن ابن هيثم او د رازي کتابونه لاتيني ژبې ته وژباړل، په داسې حال کې چې د هغو(کتابونو) ژباړونکي مالوم نه دي. په شپاړسمه پيړۍ کې دابن رشد او ابن سينا کتابونه په ايټاليا کې وژباړل شول او دغه کتابونه د ايټاليي او فرانسې په پوهنتونو کې تدريس کيږي.

بيا دغه تاريخي خبر ليکي: په لنډ ډول د ختيځ علوم د رحمت د باران په ډول د اروپا په وچه ځمکه ووريدل او هغه يې خاصلخيزه کړه او اروپايان ورو، ورو د ختيځ د علومو سره اشنا شول.

مسټر بارول کارول دوو په خپلو يادښتونو کې، د مسلمانانو د الو پيژندلو او رياضياتو په اړه داسې ليکي: مسلمانانو په مختلفو علومو کې ډېرې برياوې لاسته راوړې. هغوی د اعدادو استعمال خلکو ته وښود او د تحليلي هندسې اساس يې کيښود. هغوی (مسلمانان) د سطحي او کروي مثلثاتو رامنځته کوونکي وه، چې په يونان کې يې اصلا وجود نه درلود.

بيا داسې ليکي:

هغه وخت، چې لويديځ د بربريت سره په جګړه کې وه، مسلمانان د علومو په مطالعه بوخت وه او د ژوند د معنوياتو په اړه يې فکر کاوه.

پروفيسور سانتيلا د روم د پوهنتون استاد د مسلمانانو د ټولنې او قانون په اړه داسې ليکي:

هغه څه چې موږ د عربو (مسلمانانو) د قانون څخه اخيستي، عبارت دي، له د قانوني مؤسسو تشکيل، محدود سهامي شرکتونه او ځينې تجارتي نقاط.

دا بحث د داکتر ميرهوف د يادښتونو په وروستۍ خبرو پای ته رسوو. دلته به وارزول شي، چې د اسلام د ميراث تأثير او د ختيځ د پوهانو افکارو څومره په لويديځ باندې اغېز لرلی دی.

For more Pashto Books, Visit: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عربو (مسلمانانو) علومو، د یو روښانه لمر په څېر د اروپا د منځنیو پیړیو تیارې رڼا کړې او هماغه روښنایي وه، چې نن موږ دې حالت ته رارسیدلي یو.

په هر حال، هغه علوم او پوهنې چې لویدیځ ته تللي، هغه د ختیځ د پوهانو دي، چې لاتیني ژبې ته ژباړل شوي او اوس لویدیځ ترې استفاده کوي او په خپلو پوهنتونو کې یې تدریس کوي.

## د لویدیځ ادبي استعمار

نن د لویدیځ ادبیات په چټکی سره په ختیځ کې پراختیا مومي، نه یوازې د ختیځ د ادبیاتو اصالت له منځه وړي؛ بلکه کوښښ کوي، چې په تدریجي ډول یې د خپل اغېز لاندې راولي؛ خو، د تعجب خبره داده، چې ځیني ختیځوال پر دغه اغېز باندې ویاړ کوي.

پخوا په ټولو درسي ځایونو کې فرانسوي ژبه، د یو اساسي مضمون په توګه تدریس کیده؛ خو اوس یې ځای انګلیسي ژبې نیولی دی. دلته په ختیځ کې دا احساس د ځینو سره موجود دی، که چیرې دوی کومه خارجي (غربي) ژبه زده نه کړي؛ نو د دوی ژوند به ستونزمن شي، که دوی په صنعت او تجارت کې کار کوي او یا هم کارګر یا کسبګر وي.

ولې، په لویدیځ کې بیا وضع بدله ده، هلته د ختیځ د ژبو اړتیا نه لیدل کیږي. هغوی د ختیځ د ژبو د زده کړې نه بغیر کولای شي، چې ډوډی وخوري او ژوند وکړي، هغه کسان د ختیځوالو ژبې زده کوي، کوم چې د لویدیځ په مستعمرو (ختیځ) کې په ځانګړو دندو باندې ګمارل کیږي.

زموږ ختیځوالو لپاره د لویدیځوالو ژبې ډیرې خوږې، خوندورې او ښکلې دي؛ خو د لویدیځوالو لپاره بیا د ختیځوالو ژبې ډیرې ستونزمنې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ د ختيځ سياستمداران، ددې پر ځای چې (مجلس) يا (شعبه) ووايي، پر ځای يې (پارلمان) او (فراکسيون) کلمات استعمالوي. ددې پر ځای، چې د (اعتبار) کلمه استعمال کړو، پر ځای يې د (کريډيټ) هغه کاروو.

زموږ د خلکو څخه هر ځای د نوي (معاصر،اوسني) پر ځای د ماډرن کلمه اوريدل کيږي، په داسې حال کې چې دواړه يو بل ته ورته مانا ورکوي.

د فرهنګيانو په اند د (کنفرانس) پر ځای د (بحث او جلسې) کلمې ډيرې پر ځای دي.

که چيرې خپل اقتصاد او صنعت په خپله سمبال کړو؛ نو د لويديځ ادبياتو ته به مو اړتيا ډيره کمه شي او د هغوی د ادبي استعمار څخه به خلاص شو. د بشپړ ادبي او فرهنګي ازادۍ لپاره، لومړی بايد خپله اقتصادي ازادي رامنځته کړو او اقتصادي ازادي تر فکري هغې پورې تړلې ده.

## لويديځ: د ختيځ د ادب احسان من دی

ژورې څيړنې موږ ته دا راښيي، چې د نن برعکس، پخوا، اسلامي تمدن او ختيځو ادبياتو پر لويديځ ژور نفوذ درلودلای دی.

د اروپا په زياتو علمي او اقتصادي انقلابونو کې، د عربي ژبې زيات اغېز تر سترګو کيږي. هغه اصطلاحات چې نن په لويديځ کې کارول کيږي، اکثره يې عربي ريښه لري، کله چې علوم د ختيځ څخه لويديځ ته انتقاليدل؛ نو دغه اصطلاحات هم ورسره ولاړل. سره له دې، چې د لويديځ لخوا ددغه واقعيت د پټولو لپاره ډېر کوښښونه وشول؛ خو ددغو اصطلاحاتو موجوديت زموږ د ادعا لپاره يو لوی دليل دی.

دلته، ځو هغه اصطلاحات، چې په غربي لاتيني ژبو کې موجود دي، د خپل اصلي اسلامي ريښې سره وړاندې کوو.

For more Pashto Books, Visit: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- Alembic ( الم بیک): دا کلمه د انبیق له کلمې څخه اخیستل شوې ده، چې په کیمیاوي ازموینو کې ترې کار اخیستل کیږي، ویل دورانت د خپل تاریخ په ۱۱ جلد کې لیکي: د انبیق څخه په لومړي ځل مسلمانانو ګټه واخیسته. (۱۱جلد صفحه ۱۵۵).

۲- Algebra (الجبرا): د عربي د الجبر کلمې څخه اخیستل شوېده، دا علم په لومړي ځل د مسلمانانو لخوا تدوین شو. البرماله وتلی مؤرخ په خپل کتاب (د منځنیو پیړیو تاریخ) کې لیکي: مسلمانانو په ریاضیاتو، هندسې، الجبر، طب او جغرافیې کې ستر خدمتونه کړي او ډیرې لاسته راوړنې یې لرلي دي.

۳- Alchemy (ال کیمي): وروسته دغه نوم کیمیا ته تغیر شوی دی، دغه کلمه د عربي د الکیمیا د کلمې څخه اخیستل شوې ده ( یاد مو وي، چې د ال کلمه هم د عربي ژبې لفظ دی).

البرماله په خپل تاریخ کې داسې لیکي: عرب (مسلمان) کیمیا پوهان د نن ورځې وتلي پوهان دي.

۴- Cifra (صفرا): صفرا د صفر مانا ورکوي او د عربي کلمې د صفر څخه اخیستل شوېده. کارول دوو په خپل کتاب (د اسلام میراث) کې، مسلمان ریاضي پوهانو ته په اشارې سره داسې لیکي: باید پوه شو، چې د صفر لاتیني کلمه په دوه ماناوو سره استعمالیږي. کله د صفر او کله هم د اعدادو مانا ورکوي. بیا لیکي: د لوګاریتم، الجبر او صفر کلمې د اعرابو(مسلمانانو) پاتې شوي اثار دي.

۵- Alcohol ( الکول): دا کلمه د عربي کلمې الکحول څخه اخیستل شوېده. صنعتي او طبي الکول په لومړي ځل د مسلمانانو لخوا کشف شول او په عربي کې اوس هم د الکولو پر ځای د الکحول کلمه استعمالیږي.

ویل دورانت په دې باره کې لیکي: مسلمانانو په لومړي ځل درملتون او د درملو د جوړولو ځایونه رامنځته کړل. (۱۱ جلد ۱۵۷ صفحه).

For more Pashto Books, Visit: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶- Calcium (کلسیم): کلسیم د عربي ژبې د کلس څخه اخیستل شوی دی، چې د اهکو مانا ورکوي.

۷- Tariff (تاریف): په انګلیسي کې د تعرفې او نرخ په مانا استعمالیږي او تعریف یې اصلي کلمه ده او لاتیني تلفظ یې هم همدا ډول دی.

۸- Traffic (ترافیک): د هالینډ د لیدن د پوهنتون استاد کریمرز په خپلو یادښتونو کې داسې لیکي: د ترافیک کلمه د عربي د تفریق د کلمې څخه اخیستل شوېده او اصلا د ترافیک کلمه عربي کلمه ده.

۹- Magazine (مګزین): کریمرز بیا په خپلو یادښتونو کې داسې لیکي: دا کلمه د عربي د مخزن کلمې څخه اخیستل شوېده، چې اصل یې د مغازې په شکل دی.

۱- Almanch (المنچ): په انګلیسي کې د کلنۍ په نوم یادیږي او د عربي د المنهج څخه اخیستل شوېده.

دا هغه کلمات وه، چې د اروپا په علمي انقلاب کې د ختیځ څخه لویدیځ ته تللي دي.

## استعمار

د ښکیلاک (استعمار) تاریخچه د بشر په تاریخ کې د غمونو او ماجرا څخه ډکه ده، نن ورځ هم د سترو قوتونو او دولتونو تر منځ د اصلي اختلاف په شکل وجود لري.

د نړۍ د تېرو او حتی اوسنیو قومونو تر منځ د ښکیلاک مختلفې نمونې لیدل کیږي، د بیلګې په ډول، یونانیانو او فنیقیانو د مدیترانې په ساحل کې مستعمرې درلودې؛ خو، ښکیلاک په اوسني شکل سره بیخې نوی دی.

د ښکیلاک بازار هغه وخت تود شو او نړیواله بڼه یې خپله کړه، کله چې زیات نقلیه وسایل اختراع شول او هم سترو شرکتونو کښتۍ ګرځول پیل کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې وخت کې ښکیلاک په لومړي سر کې، سوداګریزو شرکتونو د خپلو ګټو د لاسته راوړلو لپاره پیل کړ، دولتونو یې ملاتړ وکړ؛ خو، وروسته د (سترو ګټو) د لاسته راوړلو لپاره دولتونو په مستقیم ډول ښکیلاک پیل کړ او دغه عمل یې په خپل لاس کې واخیست، د یوې لنډې مودې وروسته د دولتونو تر منځ سیالۍ پیل شوې.

پر دې اساس د (نوي عصر ښکیلاک) د اروپا د صنعتي انقلاب، د منځنیو پیړیو په پای ته رسیدو، د نویو پیړیو د تاریخ د پیل او د نولسمې پیړۍ په لومړیو کې پیل شو.

د ښکیلاک (استعمار) کلمه د لغت له مخې د (ودانولو) معنا ورکوي؛خو، په سیاسي اصطلاح د هغه برعکس معنا لري، یعنې د یو هیواد ورانول ددې لپاره، چې بل هیواد ودان شي.

په ټولو اسیايي او اروپایي لغاتو کې ددې نا سپیڅلي لغت موخه په ساده ډول د نورو خلکو د ځمکو نیول او اشغال دی، د ښکیلاګرو په ژبه (لاتیني ژبه) دغه لغت په هیڅ ډول د ښکیلاک مترادف نه استعمالیږي، بلکې د کلونیالیزم لفظ، چې کلونیا د ( مهاجرینو د ډلې) معنا ورکوي، استعمال شوې ده.

ټولنپوهانو د ښکیلاک د کلمې زیات پیژندونه کړي دي؛ خو، زمونږ په نظر غوره هغه یې دادی:

ښکیلاک یعنې( په ټولیز ډول د یو ملت غلامول د بل ملت یا دولت په وسیله) او په حقیقت کې ښکیلاک د پخوانۍ (فردي غلامۍ) یو ټولیز شکل دی.

په فردي ښکیلاک کې یو یا څو کسان د خوښې پرته د بل کس ګټې ترلاسه کوي، ولې په ښکیلاک کې د یو ملت ځواک په ټولو ذخیرو باندې د خوښې پرته ولکه کوي او مصرفوي یې.

تاریخ موږ ته ښايي، چې ښکیلاک د پخواني فردي ښکیلاک یوه بله بڼه ده.

For more Pashto Books, Visit: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لویدیځو ښکیلاکګرو چې، کوم جنایات په دې دوران کې کړي، هغه بربري جنایات دي، چې غلام پلورنکو د (فردي ښکیلاک) په منځنیو پیړیو کې کړي وه.

د فرانسې یو وتلی لیکوال لیکي:

د امریکا او اقیانوس بومي اوسیدونکي د اروپا د متمدنو؟ قومونو لپاره داسې وه، لکه د یوه ښکاري لپاره سوی (خرګوش)، ولې نن ګورو، چې هغه هر څه یې برباد شوي دي.

هغه څه چې د ښکیلاک د تاریخچې په اړه وویل شول، دغه نظر ډېر پیاوړی کوي، ښکیلاک اقتصادي انګیزه لري او د یوه بې کاره اقتصاد نه سرچینه نیسي، لکه د لویدیځ اوسنی اقتصاد (پخواني وخت ته نغوته ده)، د اقتصادي ښکیلاک لپاره د یوه هیواد خلک په سیاسي ډول محاصره کول دي، په دې ډول سیاسي ښکیلاک د اقتصادي ښکیلاک لپاره په کار وړل کیږي.

د مستعمرو ساتل او د اوږد مهال لپاره د هغوی په ولکه کې نیول، د فکري ښکیلاک ته نه پرته ناشوني دي او په دې ډول فکري ښکیلاک د سیاسي ښکیلاک لپاره اړین دی.

نو، د ښکیلاک بنسټیزه موخه اقتصاد دی، سیاسي ښکیلاک یې مقدمه او فکري هغه یې د پایښت لپاره زیات مهم دی.

**پای**

For more Pashto Books, Visit: www.ketabton.com

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library